AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲۲/۱۲/۱۹

# ښه شیان په لوی لاس مه پردي کوئ!

هغوی چې د «غربي فرهنګ» تر نامه لاندې د «تمدن» او نومهاليو علمي پرمختګونه ارزښتونه د کرکې په ډېرو ولي، نه لویديځ (غرب) پېژني او نه هم د فرهنګ په مانا پوهيږي.

ايفون يې په لاس کې وي، لپټاپ ته ناست وي او ولسواکي، د بيان ازادي، ټاکنې، جمهوريت او د ښځو زدکړې د (غربي فرهنګ) تر سرليک لاندې ښکنځي.

له پخوا زماني راپه دېخوا، بيا په تېره، د نړيوالتيا Globalization په زمانه کې هيڅه يوازې ختيز (شرقي) نه دي او هيڅه هم بشپړ لويديز (غربي).

دا پولې ډېرې پخوا ړنګې شوې دي.

د لرغونيو يونانيانو تر ټولو ستر خدايګوتی (زئيوس) نومېده، ده خپل نوم له هيندي اساطيرو پور کړی و. په زړو هيندي اساطيرو کې يې (ديو - ديوس) خدای ته ويل، همدا په يونان کې زئيوس او په روم کې ژوپيټير شو. د لمر اروپايي خدايګوتی هماغه د منځني ختيځ او زاړه مسوپوتاميا (نننی عراق) شمش دی. شرقي مسيح و عيسويت د غربي فرهنګ سرچينه ده او له توکميز پلوه اروپاييان ځانونه آرين ګڼي، چې له ځينو سپينو بوميانو سره ګډ شوي دي .لويديز تېرپوه «شارون ترنر» باور لري، چې په ( انګلو- ساکسون ) کې ساکسون ساکان (اسکيتان) دي او دا سکه د پښتنو د تره زامن کيږي.

يوناني فيلوسوفي عربي او مسلمانو حکيمانو وژباړله او بېرته يې اروپا ته ورمعرفي کړه.

د اوسنۍ ټکنولوژي ۹۰ سلنه فيزيکي توليدات په چين، جاپان، کوريا او اندونيزيا کې جوړيږي او دا شرقي (آسيايي) هېوادونه دي.

د نړۍ تر ټولو ستره ديموکراسي هيندوستان ده او د اسلامي نړۍ تر ټولو باثباته ديموکراتيک نظامونه په ماليزيا و اندونيزيا کې واک لري. دا يو هم لويديز هېوادونه نه دي.

د جامو ډول تر هرڅه وړاندې په اقليم پورې اړه لري او ورو ـ ورو په فرهنګ بدليږي، په خورا لرغوني مصر کې ښځو تي نه پټول او سرونه يې خربيل، ټيکری او لونګي هيندوستاني اصل لري او يو روايت داسي هم دی، چې خورا لرغونيو عربو سوداګرو د هيندوستان له جنوبي څنډو څخه د لونګۍ د ترلو عادت حجاز ته وړی، ځکه په شګلنو ګرمو سيمو کې ورته اړتيا وه. ټُنګ د ګرمو سيمو جامه ده، چې د پښو منځ ته هوا ورننوځي او چسپ پتلونونه د لانده او سوړ اقليم اړتيا وه...

ديموکراسي او جمهوريت يوازې د نومونو په ښه له زاړه يونان و روم څخه اخيستل شوي ګڼل کيږي، مګر تر دې زړه بومي ولسواکي او انتخابات په جرګه يې ښه په هيندوستان و اريايي تمدن، چيني تهذيب او غرنيزو پښتنو کې تجربه شوِي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغاني فرهنګ له ښوونځیو د نجونو شړل نه دي. افغاني فرهنګ لنډۍ، کاکړۍ غاړې، د ملي هینداري نکلونه، هزارګي فولکلور، بامیاني دمبوره و چاربیتی، اتڼ، قرصک، سنګردۍ، دوبیتی، قابلي، اوزبېکي غالی و ګڼ پاولیدار دي، چې باید وساتل شي. افغاني فرهنګ یعني لوګري موسیقي، بدخشي غیچک او د آدم خان رباب.

د نړۍ اوسنی تمدن، پوهه، تکنولوژي، فیلوسوفي، جمهوریت، ولسواکي، ټاکنې او ټولنیز اړیکي نه د شرق دي، نه دغرب بلکې د ټول بشریت دي.

لویدیزوال اوبه څښي او ډېرې یې څښي، وایي روغتیا ته ګټه لري. موږ هم باید ډېرې اوبه وڅښو، چې روغتیا ته مو ګټه لري، دا له کافر لویدیځ څخه تقلید نه، بلکې روغتیایي تجربه ده.

هر هغه څه چې زموږ ټولنیز ژوند سوله ییز کوي، هر ټولنیز قرارداد چې د واک شخړه له منځه وړي، هره تکنولوژي، چې ډوډۍ بودولای شي او هر هغه سیاسي سیستم چې موږ ته کور، برېښنا، اوبه، خواړه، جامې، ښوونځی او پوهنځي راکولای شي باید راخپل یې کړو، دا هرڅه د هیچا نه دي، دا هرڅه د ټولو دي.

ښه شیان په لوی لاس مه پردي کوئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ